

د پالیسۍ لنډیز

# د افغانستان په وړاندې د ازبکستان دوه گونې ستراتیژي

انډریو واټکینز، تیمور شاران

FRIEDRICH EBERT STIFTUNG

دغه پالیسي لنډیز، له افغانستانه د متحده ایالاتو د ځواکونو وتلو ته په پام سره، تر ۲۰۲۱ ز. کال وروسته له افغانستان سره د ازبکستان هېواد تعامل څېړي. د پالیسۍ دغه لنډیز، په دې اړه چې د امریکایي ځواکونو د وتلو ځانګړتیاوو په تړاو د ناڅرګندتیاوو څرنګه زیاتوالی، کولی شي په افغانستان او سیمه کې د ازبکستان ملي او سیمه ییزې ګټې اغېزمنې کړي. دغه د پالیسۍ لنډیز، د هغو کلیدي برخو په پام کې نیولو سره، چې اروپايي ټولنه او مرکزي اسیا کولی شي، له افغانستان سره همکاري وکړي او د سولې تر پروسې ها خوا پراخ تعامل لپاره لازم فرصتونه ومومي، تر ارزونې لاندې نیسي.

په نولسمه پیړۍ کې د روسیې له خوا د مرکزي اسیا تر نېواک (استعمار) مخکې، بهرنیانو به تر ډېرې مودې، افغانستان او مرکزي آسیا یوه واحده فرهنګي، مدني او سیاسي حوزه ګڼله.[1] د روسیې او انګلیس امپراتوري ترمنځ جیوپولیتیکې لانجې، پر ۱۹۷۰ ز. کلونو په افغانستان کې د کمونیستي رژیم تر راتلو او د ۱۹۸۰ لسیزه کې د شوروي یرغل پورې، دغه تاریخي اړیکې له منځه یوړې. پر ۱۹۸۹ ز. کال د شوروي اتحاد تر نسکورېدو او په مرکزي آسیا کې د هېوادونو د پرله پسې خپلواکي او په افغانستان کې له کورنۍ جګړې وروسته، دغه سیمه یو ځل بیا له وېش سره مخ شوه: افغانستان پر یو امنیتي ګواښ بدل شو، چې د مرکزي اسیا هېوادونو باید خپل ځانونه پر وړاندې یې خوندي کړي وای.

له ۲۰۱٦ ز. کال راهیسې د سیمې د «ترانزیټي» څلورلارې په توګه د افغانستان د بدلېدو په تړاو د ولسمشر اشرف غني لیدلوري او د ازبکستان د ولسمشر شوکت میرضیایوف ورته وړاندیزونه، چې د سیمې د امنیت، ثبات او هوساینې لپاره واحدې نظریې دي، د دواړو هېوادونو ترمنځ د تقابل او تر هغه لوړ نوي امکانات رامنځته کړي دي. همدارنګه د تقابل دغه فضا، د ژور سیمه ییز اقتصادي ادغام د تسهیل په موخه، یو ورودي ټکی د اروپایي ټولنې لپاره هم وړاندې کوي، چې له افغانستانه د وتلو لپاره د امریکا د لېوالتیا مهمې نښې دي.

### د ازبکستان او افغانستان د سولې خبرې:

#### د ټولو اړخونو شاملول:

له ۲۰۱٦ ز. کال د ازبکستان مشرتابه او نوښتونه یې، د هغه هېواد له پراخ پرمختګ او له افغانستان سره د نږدې اړیکو په رامنځته کېدو کې مهمه ونډه لرلې ده. دغه پالیسي، له کابل سره د کارنده اړیکو د رامنځته کېدو لامل شوی، چې په اتصالي زېربناوو، پروژو او پروګرامونو کې رېښه لري. تاشکند له نورو نړیوالو او سیمه ییزو فعالینو سره، چې د افغانستان د باثباتولو په برخه کې هڅه کوي، د افغانستان د سولې په پروسه کې رغنده ونډه ولري.

ازبکستان د جګړې له دواړو لورو سره د نږدې کېدو هڅې پیل کړې؛ له کابل سره دوستانه اړیکې ټینګې کړي او له طالبانو سره د لا نږدې اړیکو د جوړولو په لټه کې دی. کله کله د دغو اړیکو جوړول، ستونزمن هم دی. لکه څرنګه چې کابل د ۲۰۱۹ ز. کال په اګست کې د تاشکند له خوا د طالبانو د پلاوي د هرکلي په غبرګون کې، خبرداری ورکړ، چې دغه ډول بلنې کېدای شي په راتلونکي کې به د سولې هڅې زیانمنې کړي.[2]

د ۲۰۲۰ ز. کال په سپتمبر میاشت کې په دوحه کې د سولې خبرو تر پیلېدو دوه ورځې وړاندې، د طالبانو د سیاسي دفتر مشر ملاغني برادر، ازبکستان او د مرکزي اسیا نورو هېوادونو ته، د دغو هېوادونو د اقتصادي ګټو او امنیت په تړاو ډاډ ورکړ.[3] د طالبانو دغه ژمنې ډېرې مفصلې دي او یکې مشخصو پېښو ته اشاره شوې او په مستقیمه توګه تر پولو ها خوا ناامنیو او تاوتریخوالو پر پراختیا متمرکزې وې. ملا برادر ان ژمنه کړې، چې سمرقند ته د خبرو ځای د لېږد په تړاو وړاندیزونو ته هم د قدر په سترګه ګوري. په مقابل کې، تاشکند طالبانو د ډیپلوماتیک مشروعیت ورکړې دوام ورکړي، هغه څه چې د هغو احتمالي سناریوګانو زېږنده ګواښونو کچې د راټیټولو په موخه د یوې کړنلارې په توګه ګڼل کېږي.

---

۱.له ابهامه تر ستراتیژي پورې پروژه: د افغانستان په سیمه کې د برلاسي کېدو راتلونکي احتمالي سناریوګانې څه دي؟ دا د فریډریش ېبرټ بنسټ یوه خپلواکه هڅه ده، ترڅو د افغانستان د ګاونډیو لپاره، د پالیسیو د تعدیل، او د اروپایي بهرنیو پالیسي جوړوونکو ترمنځ یوې هر اړخیزې اړتیا لپاره ورته سناریوګانې تدوین او تر بحث لاندې ونیسي. د پالیسۍ دغه لنډیز، د دغه لړۍ یوه برخه ده، چې د اندرو واتکینز و ډاکټر تیمور شاران له خوا لیکل شوی، ترڅو د پالیسۍ د موجودو ابزارو، ستراتیژیکې ګټې او د افغانستان په دننه او بهر د اصلي شریکانو د ننګونو په تړاو، د امریکا د وتلو او د افغانستان د سولې خبرو پایلې، تر بحث لاندې ونیسي. د پالیسۍ د لنډیزونو بشپړ نوملړ، په لاندې ادرس کې ترلاسه کولی شي: http://www.afghanistan.fes.de/publications.

۲. قشلق اووزی (۲۰۱۹)، «د ازبکستان تجربې، په افغانستان کې د سولې رامنځته کېدو ستونزې »، آزادي راډیو، ۲۴ آګست ۲۰۱۹.

۳. امیده هاشموف، (۲۰۲۰)، «تر بین الافغاني خبرو ها خوا، ازبکستان یوه روښانه راتلونکې ویني »، ډیپلومات، ۲۱ سپتمبر ۲۰۲۰ ز. کال.

## د همکارۍ چاپېریال: متنمي ګټې

د اروپايي ټولنې، ازبکستان، متحده ایالاتو او افغانستان ترمنځ د همکارۍ او مشارکت رښتیني چاپېریال شتون لري؛ دغه ټول هېوادونه د سيالي پرځای، له یو بل سره همکاري کوي: ټول ارخونه، د سیمه ییز ثبات د ساتنې او خوندیتوب لپاره، د نویو زمینو رامنځته کولو په هڅه کې دي او په افغانستان کې د متحده ایالاتو/ ناټو د فعالیتونو احتمالي قطع کېدو ته منتظر دي. پر ۲۰۱۴ ز. کال په افغانستان کې د متحده ایالاتو د پوځي ونډې تر کمېدو وروسته، د ولسمشر غني تر مشرۍ لاندې افغان دولت، د اقتصادي ادغام او سیمه ییزې سوداګرۍ په برخه کې هڅه کړې او له ازبکستان، تاجکستان او ترکمنستان هېوادونو سره نږدې کاري اړیکې رامنځته کړې دي. د بهرنیو اړیکو د ارزونې په دننه نن دغه جهت موندنه، چې د کابل د سیاسي بقا څخه د ډاډمنتیا د ترلاسه کېدو په موخه رامنځته شوې، د متحده ایالاتو او اروپايي ټولنې له خوا هم په کارنده ډول هڅول کېږي. د اروپايي ټولنې لپاره، د کابل هڅوونکې سیمه ییزه کړنلاره، له مرکزي اسیا سره د اروپايي ټولنې له ګډو اړیکو همغږې لري، چې پر ۲۰۱۹ ز. کال د انعطاف منني، نیکمرغي او اتصال لپاره یوه ژمنتیا ده.

## د اقتصادي همکاریو پراختیا

تاشکند، په افغانستان کې له پراخو اقتصادي او سیاسي فرصتونو څخه ملاتړ کوي؛ په ځانګړې توګه د سولې تر ټینګښت وروسته، چې په مرکزي اسیا کې د یو واکمن ځواک لپاره د بدلیدو په موخه، د دغه هېواد له ارمانونو سره ترلې دي. دغه حقیقت، د بین الافغاني سولې خبرو د کوربه توب له ژمنتیا څخه څرګند ده، چې د ازبکستان لپاره د یو سیمه ییز راتلونکي واک په توګه او په نړیواله کچه د دغه هېواد د اعتبار او پېژندنې کچه او د افغانستان پر سیاست د اغېز کولو زمینه برابروي. تاشکند، لا مخکې له خپل ګاونډي هېواد سره له اقتصادي ځواک څخه برخمن دی: پر ۲۰۱۹ ز. کال کې، افغانستان ته د ازبکستان د صادراتو د ټولټال بيې کچه تر یو میلیارد ډالر واوښتله او اټکل کېږي، چې دغه شمېره تر ۲۰۲۴ ز. کال پورې، درې چنده زیاتوالی ومومي. موجوده مساعدو اړیکو زمینې او د ازبکستان هیلو او په مرکزي آسیا کې د اروپايي ټولنې موخو ته په پام سره، دغه ټولنه کولی شي په اسانۍ سره، د مرکزي اسیا – افغانستان – سویلي اسیا په ډیالوګونو او نوښتونو کې بېلابېل سیمه ییز تعاملات زیات کړي.

په داسې حال کې، چې تاشکند له اروپايي ټولنې او متحده ایالاتو سره تعامل او هڅونه یې مني، ځان د چین د سیمه ییزو ګټو د شریک په توګه هم ګڼي – او لویدیځ قدرتونه باید د دغه هېواد د ډیپلوماسي او پرمختیايي کړنلارې څو اړخیزتوب ومني. ازبکستان، د وسپنې پټلي تر کار لاندې څو پروژو په لرلو سره هیله لري، د روسي او چیني توکو لپاره د سوداګریز مرکز په توګه رادمخه شي. د ازبکستان د وسپنې پټلۍ ملي لاره اوس د حیرتان سرحدي ښارګوټي هاخوا د مزارشریف سوداګریز او مهم ښار نښلوي. د وسپنې پټلي د دغه کرښې لپاره، داسې پروګرام هم شته، چې په لویدیځ کې د ایران پولې ته نږدې له مهم تجارتي ښار هرات سره هم وصل شي، چې مرکزي اسیا د فارس خلیج له بندرونو سره نښلوي. سربېره پر دې، د ازبکستان – قرغیزستان – چین د وسپنې پټلي لارې جوړول، چې ازبکستان په دې برخه کې د مالي مرستو ژمنه کړې، هم ازبکستان زیات واک وربښي، ترڅو سویلي اسیا، ایران او مرکزي اسیا ته لاسرسی ولري. همدارنګه دغه چاره ازبکستان ته د دې زمینه برابروي، چې د نړیوال ترانسپورت اصلي دهلیزونو ته په لاسرسي سره، د بېلګې په توګه په ایران کې چابهار او په پاکستان کې ګوادر ته، د صادراتو او تعرفه پال اقتصاد تعقیب کړي.

د تاشکند لیدلوري یوازې په هغه صورت کې، ترلاسه کېدای شي، چې په افغانستان کې جګړه په سوله ییزه توګه پای ومومي – چې د نن ورځ په شرایطو کې د افغان دولت او طالبانو ترمنځ د سوله ییز او تلپاتې هوکړه لیک په معنا ده. ازبک پالیسي جوړوونکي پر دې پوهېږي، چې یو سوله ییز افغانستان کولی شي، د څو هېوادیزو پروژو په جوړلو او پرمختیا، د انرژۍ کرښې، وسپنې پټلي لارې، عمده اتصالي پروژو او نورو زېربناوو د جوړولو او پرمختیا په برخه کې د دوی ګډې ګټې تامین کړي.




**Major international rail routes in Central Asia, 2019**
Source: Martin Russell, "Connectivity in Central Asia, Reconnecting the Silk Road," EPRS | European Parliamentary Research Service, April 2019, accessed September 12, 2019.

## د امنیتي همکاریو پیاوړتیا

د نه ویش وړ سیمه ییز امنیت په تړاو د ازبکستان د ولسمشر میرضیایوف نظر، پر ۲۰۱۷ ز. کال کې د سمرقند او پر ۲۰۱۸ ز کال کې. د تاشکند سیمه ییزو کنفرانسونو جوګه شو؛ وروستی کنفرانس په بشپړ ډول پر افغانستان متمرکز و. پر افغانستان د نفوذ شیندلو لپاره د روسیې د هڅو پرخلاف، د تاشکند تعامل، د افغانستان د سولې له پروسې څخه د مسکو له بدبینو ډکې ارزونې منعکسوونکی نه دی، چې په هغه کې د افغانستان دولت د سقوط سناریو هم شامله ده. په حقیقت کې ازبکستان، په سیمه کې د تر ټولو ناوړو سناریوګانو په تړاو په تولیزو بحثونو کې د نږدې حضور د نه لرلو له امله، ډېر مهم دی. د دې پرخلاف، د دغه هېواد ډیپلوماتیکه ژبه پر احتمالي ګټو او انګیزو (د سولې د ونډې ګټې) باندې متمرکزه ده. ازبک پالیسي جوړوونکو په خصوصي بحثونو کې، د امنیتي عمومي ترون سازمان د بنسټیزو کولو لپاره، د روسیې پر فشارونو ډېره نیوکه کړې، چې د هغوی په باور، تر ډېره دغه چاره له یوې پراختیا غوښتونکې دریځ څخه سرچینه اخلي، د دې پرخلاف، چې له تروریزم سره د مبارزې لپاره یوه اغېزناکه کړنلاره وي. هغوی وېره لري، چې روسیه د خپل نفوذ له قدرت څخه د مرکزي اسیا د وتلو اندېښنه لري او ښايي د افغانستان د بې ثباتیو پورې اړوندو ګواښونو په اړه مبالغه وکړي، ترڅو د روسیې امنیتي مرستو ته د مرکزي اسیا هېوادونو د اړتیا کچه زیاته کړي.

مذهبي توندلاریتوب او رادیکالیزاسیون لا هم د ازبکستان او مرکزي اسیا لپاره یوه مهمه ننګونه ده او د دغه هېواد مشرتابه پر دې نه دي توانېدلی، چې د افغانستان د جګړې پر احتمالي پایلو سترګې پټې کړي. بې ثباته کوونکې ځواکونه لکه د حقاني شبکه، القاعده، داعش او د ازبکستان اسلامي حرکت (IMU) لا هم د سیمې امنیت له ګواښ سره مخ کوي. ازبکستان له ډېرو کلونو راهیسې، او له طالبانو سره د ژور تعامل په برخه کې، د جهادي ډلو په اړه یو کارنده سیاست تر لاس لاندې نیولی دی. د ازبکستان لا له مخکې، د (IMU) او په افغانستان او سوریه کې د داعش جنګیالیو سره د تعامل او ان احتمالي روغې جوړې په برخه کې خپله لېوالتیا څرګنده کړې او هغوی هڅوي، ترڅو خپلو اصلي هېوادونو ته ستانه شي. همدغه لیدلوري، د افغانستان د سولې پروسې په تړاو د تاشکند د کړنلارې بنسټ جوړوي: ازبکستان دې ته لېوالتیا لري، چې د طالبانو پخواني جنګیالي په خپلو ټولنو کې مدغم شي؛ د دې ترڅنګ په افغانستان کې د پراخ غیرنظامي کېدو او د سپکو وسلو د کنټرول غوښتونکی هم دی.

د دغو نویو، ادغام پالو او له خوشبینو ډکو سیاستونو پایلې باید تر سترګو شي. د پام وړ ټکی دا دی، چې د تاشکند کړنلاره، د پولې تر کنټرول او له تروریزم سره تر مبارزې لوړه ده، چې د مرکزي اسیا نور هېوادونه یې د روسیې تر امنیتي څارنې لاندې تعریفوي. اروپایي ټولنه کولی شي په ټوله سیمه کې دغه ستراتیژي په پراخه کچه پیاوړې کړي. لکه څرنګه چې مو مخکې یادونه وکړه، لا څرګنده نه ده، چې ازبکستان تر کوم بریده د ټرټولو ناوړه سناریوګانو منلو ته چمتو دی، چې ښایي له افغانستانه د متحده ایالاتو تر پوځي وتلو یا له افغان دولت سره د نړیوالو مرستو کچې په راټیټېدو سره رامنځته شي. هغه څه چې ښکاره ده، دا دی، چې تاشکند د زیاتو اندېښنو په تړاو له هغو ټولیزو ګومانونو او انګېرنو څخه ډډه کړې، چې نور هېوادونه په فعالانه توګه په اړه یې بحث کوي.[٣]

## وړاندیزونه

- اروپایي ټولنه او ازبکستان کولی شي، په افغانستان کې د تلپاتې ثبات د پیاوړتیا لپاره، اغېزناکې همکارۍ ولري. دوی کولی شي، د خپلو ګډو ګټو او د افغانستان د سولې له پروسې د تعامل پر بنسټ، اوږدمهالې اندېښنې او اړتیاوې وڅېړي. له افغانستان څخه د ملاتړ او سیمه ییزه ډیپلوماسي کې د دغه هېواد ټاکونکې ونډې ته په پام سره، اروپایي ټولنه د مرکزي اسیا او سویلي اسیا د ټولنو او نوښتونو ترمنځ د اړیکو د پیاوړتیا په برخه کې، له مناسب موقعیت او دریځ څخه برخمنه ده.

- متحده ایالات او اروپایي ټولنه، له مخکې موجود له څو اړخیز سیمه ییز ډیپلوماتیک تشکیل څخه په ګټه اخیستنې سره، هېوادونه پر مرکزي اسیا د اغېزلرونکو موضوعاتو لکه اقلیمي بدلونونو، د کوید ۱۹ پایلو په برخه کې، د اقتصادي ادغام او «بین منطقوي اړیکو همکاریو» لپاره، د سیمه ییزې پرمختیا او امنیت په موخه، وهڅوي. دغه ډیپلوماتیک تشکیلات باید تر خبرو او بحث پورته کچه کې وي او په نهایت کې د ګډو موخو د ژورې پلیتابه په موخه د هڅونې لپاره یو ګډ میکانیزم معرفي کړي. په یو مثبت ګام کې، د مرکزي اسیا هېوادونو مخکې له افغانستان څخه بلنه کړې، چې د اروپایي ټولنې او مرکزي اسیا په لوړه کچه امنیتي او سیاسي خبرو کې، خپله ونډه له یو میلمه او څارونکی څخه، یو پوره ګډونوال ته پرمختیا ورکړي[٤].

- اوسمهال، د مرکزي اسیا هېوادونه، د سوداګریزو مسیرونو، وسپني پټلي او انرژي په برخه کې د پانګوالو د لېوالتیا خپلولو په برخه کې، سره سیالي لري. د مرکزي اسیا او افغانستان په تړاو د اروپایي ټولنې ستراتیژي پر وروستیو مثبتو بدلونونو بنسټیزه شي او پر «بین منطقوي اتصال» فشار سره، نوي فرصتونه منعکس کړي. اړینه ده، چې افغانستان په دغه اوږدمهاله برنامه کې، شامل کړای شي او له دغو نوښتونو څخه ګټه واخلي.

- په راتلونکي کال کې د اتصال په اړه د یو سیمه ییز کنفرانس د جوړېدو په برخه کې د تاشکند پروګرام (د بخارست د ۲۰۱۹ ز.کال د EU - CA اتصال کنفرانس د تعقیب په توګه)، د همکاریو په اړه د بحثونو د پرمختګ لپاره یو ښه فرصت دی. اروپایي ټولنه باید داډ ترلاسه کړي، چې اضافي مسایل، لکه فزیکي زېربناوې، د سرحدونو منسجم مدیریت او د مرکزي اسیا په روزنیزو موسسو کې د افغانانو د روزنې لپاره درې اړخیزې پروژې (پر ښځو په ځانګړې تمرکز سره) د اروپایي ټولنې د نوې ستراتیژۍ سره سم، د مرکزي اسیا په کاري اجنډا کې شامل کړي.

---

٤ . دغه درې اړخیز تشکیلات د همکاریو لپاره پر درېو کلیدي برخو متمرکز دي: امنیت، له تاوتریخوالو سره مبارزه او اقتصادي همکاري.

**د لیکوالانو په اړه**

داکتر تېمور شاران د افغانستان په امریکایي پوهنتون کې د عامه پالیسۍ مرستیال پروفیسور دی او تر دې پخوا د افغانستان لپاره د کرکېچ نړیوالې ډلې لوړ پوړی شنونکی و.

انډریو واټکینز د افغانستان شخړې او سولې لپاره د هیله مندئ څېړونکی او شنونکی دی او د شخړو په مخنیوي کې ژوره ښکېلتیا لري. تر دې پخوا یې په افغانستان کې د ملګرو ملتونو، بشري ټولنې، د امریکا متحدو ایالتونو حکومت او خپلواک څېړونکي په توګه دندې ترسره کړې دي.

**د پښتۍ د انځورونو په اړه:**

ازبک عسکر د سویلي ښار نه بهر د ملګرتیا پل ته ورغلي ټایمز ، د دسمبر په ۱۲ ، ۲۰۰۱.

انځور: رویټرز / شمیل زوماتوواس


چاپ ©۲۰۲۱ په افغانستان کې د فریدریش ایبرت بنسټ



وېب پاڼه: www.afghanistan.fes.de



د فریدریش ایبرت بنسټ له لیکلې مخکینۍ اجازې پرته، د فریدریش ایبرت بنسټ له خوا هر راز خپرونو څخه سوداګریزه ګټه اخیستنه جواز نه لري.

په دغه خپرونه کې وړاندې شوي نظریې، د فریدریش ایبرت بنسټ د لیدلورو منعکسوونکي نه دي.